# الاحقاف

مکی سورة دی ۳۵ آیتونه لری

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ﴿١﴾

حا- میم( په حقیقی معنی یې الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږی).

تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ﴿٢﴾

دا د برلاسی او حکیم ذات الله تعالی له لوری نازل کړی شوی کتاب دی.

مَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَأَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ وَٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ عَمَّآ أُنذِرُواْ مُعۡرِضُونَ ﴿٣﴾

مونږ، آسمانونه او ځمکه او د هغو ترمنځ شته (موجودات او مخلوقات) په حقه( او د خپل کامل قدرت د اثبات او ځرګندولو) لپاره پیدا کړی چې تر یوې ټاکلې مودې به( د کائناتو دا سیستم) پخپل حال روان وی، او کافران له دې تنبیه کوونکی( قرآن) نه د اعتراض په توګه مخ ګرځوی.

قُلۡ أَرَءَيۡتُم مَّا تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَرُونِي مَاذَا خَلَقُواْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ لَهُمۡ
شِرۡكٞ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِۖ ٱئۡتُونِي بِكِتَٰبٖ مِّن قَبۡلِ هَٰذَآ أَوۡ أَثَٰرَةٖ مِّنۡ عِلۡمٍ إِن
كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٤﴾

(مشرکانو ته) ووایه: دا راته ووایئ چې آیا ستاسو باطلو خدایانو په ځمکه کې کوم شی پیدا کړی او یا یې د آسمانونو په خلقت کې کومه برخه اخستې ده؟( او چې دغه کارونه نشی کولی نو ولې ورته په خدایی قائل یاست؟) که رښتینې یاست نو د قرآن نه وړاندې د کوم آسمانی کتاب سند او یا بله کومه علمی وثیقه( چې ستاسو د ادعا تصدیق وکړی) راوړاندې کړی.

وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّن يَدْعُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَن لَّا يَسْتَجِيبُ لَهُۥٓ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ وَهُمْ عَن دُعَآئِهِمْ غَٰفِلُونَ ﴿٥﴾

او له هغه نه بل لوی گمراه څوک دی چې د الله تعالی په مقابل کې د داسې شیانو پرستش کوی چې د قیامت تر ورځې به یې نه کومه دعا قبوله کړی او نه به یې له دعا گانو څخه خبر شی.

وَإِذَا حُشِرَ ٱلنَّاسُ كَانُوا۟ لَهُمْ أَعْدَآءً وَكَانُوا۟ بِعِبَادَتِهِمْ كَٰفِرِينَ ﴿٦﴾

او (د قیامت په ورځ) چې خلک راټول کړی شی، باطل خدایان به یې ورسره دښمنان او له عبادت نه به یې هم منکر وی.

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ هَٰذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٧﴾

او کله چې زمونږ روښانه آیتونه ولوستل شی، نو کافران د حق( قرآن) په باب چې دوی ته راغلی وایی دا خو ښکاره کوډې او جادو دی.

أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰهُ ۖ قُلْ إِنِ ٱفْتَرَيْتُهُۥ فَلَا تَمْلِكُونَ لِى مِنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا ۖ هُوَ أَعْلَمُ بِمَا تُفِيضُونَ فِيهِ ۖ كَفَىٰ بِهِۦ شَهِيدًۢا بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ ۖ وَهُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٨﴾

بلکه لا دا هم وایی چې ( پیغمبر) دا قرآن له خپل ځانه جوړ کړی دی. ورته ووایه( ما پخپل ټول ژوند کې حتی په کوم انسان هم د درواغو تومت نه دی تړلی نو د الله تعالی په حق کې به ولې دومره لوی جسارت ته لاس اچوم او په لوی لاس به خپل ځان الهی عذاب ته سپارم خو که فرضاً ) ما دغه جسارت کړی وی نو تاسو مې د الله تعالی له سزا نه ژغورلی نشی. الله تعالی په هغو (باطلو) چارو ډیر ښه خبر دی چې تاسو پکې مصروف یاست( او په الهی آیتونو تیوکې او ملنډې وهئ). او همدا پوره ده چې الله تعالی زمونږ او ستاسو ترمنځ گواه دی او( که اوس هم تاسو د قرآن او پیغبر له دښمنی نه لاس واخلئ او په اخلاص سره ایمان راوړئ نو الله تعالی به درته ببښنه وکړی، بې له شکه چې الله تعالی) ببښونکی او مهربان ذات دی.

قُلْ مَا كُنتُ بِدْعًا مِّنَ ٱلرُّسُلِ وَمَآ أَدْرِى مَا يُفْعَلُ بِى وَلَا بِكُمْ ۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا
مَا يُوحَىٰٓ إِلَىَّ وَمَآ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٩﴾

**ورته ووايه زه د الله تعالى په پيغمبرانو كې كوم داسې نوى رسول نه يم( چې وينا او عمل مې له نورو پيغمبرانو نه جلا وى بلكه ماته هم د هغوى په شان وحې كيږى) او په دې هم نه پوهيږم چې مونږ او تاسو به( په دنيا او آخرت كې) له څه ډول سرنوشت سره مخامخ كيږو؟ زما كار صرف د راكړى شوى( الهى) وحې پيروى (او د كفر او عصيان له ناوړو عواقبو او نتايجو څخه د خلكو) خبرول او تنبيه كول دى.**

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن كَانَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ وَكَفَرْتُم بِهِۦ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنۢ بَنِىٓ
إِسْرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ مِثْلِهِۦ فَـَٔامَنَ وَٱسْتَكْبَرْتُمْ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ
ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٠﴾

**( اى پيغمبره مشركانو او كافرانو ته) ووايه،( كله مو دا فكر هم كړى چې) كه دا( قرآن) د الله تعالى له لورى نازل شوى او تاسو ورباندې كافران شوى ياست او له بنى اسرائيلو نه يو تن( مشهور يهودى عالم عبدالله ابن سلام) هم په دې حقيقت گواهى وركړى چې تورات د قرآن تصديق كوونكى( او دهغه په شان د الهى وحې كتاب دى) او له خپلې دغې گواهى نه وروسته يې د قرآن په حقانيت ايمان هم راوړى وى، او تاسې بيا هم په تكبر او عناد سره له ايمان راوړلو انكار وكړئ( نو آيا لوى ظلم او گمراهى ته مو لاس نه دى اچولى؟ بيشكه چې گمراهان او ظالمان ياست) او الله تعالى هيڅكله ظالمان په سمه لار نه روانوى.**

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَوْ كَانَ خَيْرًا مَّا سَبَقُونَآ إِلَيْهِ ۚ وَإِذْ لَمْ
يَهْتَدُوا۟ بِهِۦ فَسَيَقُولُونَ هَٰذَآ إِفْكٌ قَدِيمٌ ﴿١١﴾

**او كافران د مؤمنانو په باب وايى چې كه (محمدى شريعت) زمونږ له شريعت نه ښه وى، مونږ( او زمونږ سردارانو او مشرانو) به پرې له دوى نه وړاندې ايمان راوړى وى، خو كله چې دغه كافران( د خپل كبر او عناد له امله) له هدايت نه بې برخې شول نو وايى دا خو هماغه پخوانى دروغ دى( چې زمونږ پلرونه نيكونه يې هم گمراه كړى وو).**

وَمِن قَبۡلِهِۦ كِتَٰبُ مُوسَىٰٓ إِمَامٗا وَرَحۡمَةٗۚ وَهَٰذَا كِتَٰبٞ مُّصَدِّقٞ لِّسَانًا
عَرَبِيّٗا لِّيُنذِرَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُحۡسِنِينَ ١٢

( ولې پخوانی دروغ دی؟) له دې وړاندې خو د موسی کتاب د رحمت او هدایت پحیث نازل شوی او دا قرآن هم د تورات تصدیق کوونکی ، په فصیحه عربی ژبه نازل شوی چې ظالمان( له عذابه) ویروی او نیک عمله( مؤمنانو ته د ابدی جنت او لوی اجر) زیری ورکوی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ
يَحۡزَنُونَ ١٣

بیشکه هغه کسان چې وایی زمونږ رب الله تعالی دی( او بیا د عمل په ډګر کې هم پخپل دغه حقیقی دریځ) ټینګ او ثابت ولاړ وی، نه وربانډې ویره او ترهه شته او نه به غم او پریشانی ووینی.

أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ خَٰلِدِينَ فِيهَا جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٤

دوی د جنت مستحقین دی چې د (خپلو نیکو) اعمالو په برکت به هلته تلپاتي او ابدی هستوګن وی.

وَوَصَّيۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيۡهِ إِحۡسَٰنًاۖ حَمَلَتۡهُ أُمُّهُۥ كُرۡهٗا وَوَضَعَتۡهُ كُرۡهٗاۖ
وَحَمۡلُهُۥ وَفِصَٰلُهُۥ ثَلَٰثُونَ شَهۡرًاۚ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ أَشُدَّهُۥ وَبَلَغَ أَرۡبَعِينَ سَنَةٗ
قَالَ رَبِّ أَوۡزِعۡنِيٓ أَنۡ أَشۡكُرَ نِعۡمَتَكَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَيَّ
وَأَنۡ أَعۡمَلَ صَٰلِحٗا تَرۡضَىٰهُ وَأَصۡلِحۡ لِي فِي ذُرِّيَّتِيٓۖ إِنِّي تُبۡتُ إِلَيۡكَ
وَإِنِّي مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ١٥

او هر انسان ته مو د مور او پلار سره د نیکۍ( تعظیم، احترام او خدمت) سپارښتنه وکړه، ځکه چې مور یې د ډیرو ستونزو او کړاوونو په زغملو سره پخپل نس کې ساتلی او بیا یې په تکلیف او کړاو سره زیږولی، او د زیږیدو او( له تی نه ) د جلا کیدو موده یې دیرش میاشتې ده، تر څو د قوت او پیاوړتیا مرحلې او څلویښت کلنۍ ته ورسی، نو ووایی: ای زما ربه ماته همت راکړه ترڅو د هغو نعمتونو شکریه اداء کړم چې په ما او زما په مور او پلار دې لورولی دی، او داسې نیک کارونه وکړم چې ته وربانډې خوشالیږې، او اولاده او ځوځات

مې راته نیک او صالح کړه. زه ستا حضور ته پناه دروړم او بې له شکه( ستا فرمانونو او احکامو ته) غاړه ایښودونکی یم.

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ نَتَقَبَّلُ عَنۡهُمۡ أَحۡسَنَ مَا عَمِلُواْ وَنَتَجَاوَزُ عَن سَيِّـَٔاتِهِمۡ فِيٓ
أَصۡحَٰبِ ٱلۡجَنَّةِۖ وَعۡدَ ٱلصِّدۡقِ ٱلَّذِي كَانُواْ يُوعَدُونَ ١٦

دا هغه کسان دی چې مونږ یې نیک او غوره اعمال قبول کړی او د نورو جنتیانو په ډله کې یې له ګناهونو او خطاو څخه تیریږو. دا هغه نیکه او غوره وعده ده چې( د الله تعالی له خوا) دوی ته ورکړی شوې ده.

وَٱلَّذِي قَالَ لِوَٰلِدَيۡهِ أُفّٖ لَّكُمَآ أَتَعِدَانِنِيٓ أَنۡ أُخۡرَجَ وَقَدۡ خَلَتِ
ٱلۡقُرُونُ مِن قَبۡلِي وَهُمَا يَسۡتَغِيثَانِ ٱللَّهَ وَيۡلَكَ ءَامِنۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ
فَيَقُولُ مَا هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٧

( د دغو نیکمرغو کسانو په مقابل کې د هغه بدبخت انسان حال وګورئ چې والدین یې ورته د ایمان او نیک عمل نصیحت کوی خو) دی ورته وایی: افسوس دی په تاسو، آیا ماته وعده راکوئ چې( وروسته له مرګه به بیا) راژوندی کیږم. له ما وړاندې خو ډیر نور قومونه تیر شوی( او یو تن ترې هم بیرته نه دی را ژوندی شوی). مور او پلار یې( د زوی د بیرته اصلاح کیدو لپاره) له الله تعالی نه مرسته غواړی (او خپل ځوی ته وایی:) افسوس دی په تا. ایمان راوړه، بیشکه چې( د قیامت د قیام او د مؤمنانو د نیکمرغۍ او بریا او د کافرانو د بدمرغۍ او شقاوت په باب) د الله تعالی وعده حقه ده. خو ځوی یې ورته وایی دا ټولې پخوانۍ افسانې دی.

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقَوۡلُ فِيٓ أُمَمٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِم مِّنَ ٱلۡجِنِّ
وَٱلۡإِنسِۖ إِنَّهُمۡ كَانُواْ خَٰسِرِينَ ١٨

دا هغه خلک دی چې د (الله تعالی) د عذاب فیصله ورباندې ثابته او نافذالعمل ده او( د قیامت په ورځ به) د جنیاتو او انسانانو له هغو ډلو سره یو ځای شی چې له سخت زیان سره مخامخ کیدونکی دی.

وَلِكُلّٖ دَرَجَٰتٞ مِّمَّا عَمِلُواْۖ وَلِيُوَفِّيَهُمۡ أَعۡمَٰلَهُمۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ١٩

( په مؤمنانو او کافرانو کې) هر چاته د هغه د اعمالو په تناسب بیلابیل درجات دی چې هغوی ته به د اعمالو له نتایجو سره ورکړی کیږی او په هیچا به ظلم او زیاتی نه کیږی.

وَيَوۡمَ يُعۡرَضُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَلَى ٱلنَّارِ أَذۡهَبۡتُمۡ طَيِّبَٰتِكُمۡ فِي حَيَاتِكُمُ ٱلدُّنۡيَا
وَٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِهَا فَٱلۡيَوۡمَ تُجۡزَوۡنَ عَذَابَ ٱلۡهُونِ بِمَا كُنتُمۡ تَسۡتَكۡبِرُونَ فِي
ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَبِمَا كُنتُمۡ تَفۡسُقُونَ ٢٠

او هغه ورځ چې کافران اور ته وړاندې شی( ورته به وویل شی) تاسو خپل نعمتونه په دنیا کې اخستی او مزې چرچې مو پرې کړی، نو نن درته ځکه عذاب درکړی کیږی چې تاسو( له الهی احکامو نه ) په تکبر سره بغاوت کاوه او په ځمکه کې مو د فسق او فساد اور بل کړی و.

۞ وَٱذۡكُرۡ أَخَا عَادٍ إِذۡ أَنذَرَ قَوۡمَهُۥ بِٱلۡأَحۡقَافِ وَقَدۡ خَلَتِ ٱلنُّذُرُ مِنۢ بَيۡنِ
يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦٓ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ
عَظِيمٖ ٢١

او( ای پیغمبره! کافرانو او مشرکانو ته) د عاد د (قومی) ورور( هود علیه السلام) حال بیان کړه چې د احقاف( په ریګستان) کې یې خپل قوم ته د الله تعالی له عذابه خبرداری ورکاوه، او له هغه نه وړاندې او وروسته، نور پیغمبران هم( دغې سیمې ته) ورغلی او (هر یو د هود دا وینا تکرار کړې وه چې) یوازې د الله تعالی عبادت وکړی، ځکه ویره مې دا ده چې د لویې ورځې په عذاب به اخته شی.

قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا لِتَأۡفِكَنَا عَنۡ ءَالِهَتِنَا فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ
ٱلصَّٰدِقِينَ ٢٢

**( خو عاديانو هود ته) وويل: ته د دې لپاره راغلى يې چې مونږ د خپلو خدايانو (له پرستش) نه راوګرځوې، نو که رښتينى يې راوړه هغه عذاب دې چې ته يې مونږ ته وعده راکوې.**

قَالَ إِنَّمَا ٱلۡعِلۡمُ عِندَ ٱللَّهِ وَأُبَلِّغُكُم مَّآ أُرۡسِلۡتُ بِهِۦ وَلَٰكِنِّيٓ أَرَىٰكُمۡ قَوۡمٗا
تَجۡهَلُونَ ٢٣

**پيغمبر يې وويل: ( د عذاب د څرنګوالى او ټاکلي نيټې علم) له الله تعالى سره دى او زه يوازې د الهى احکامو د ابلاغ لپاره مؤظف او را استول شوى يم خو تاسو وينم چې په جهل او ناپوهى کې ( په روغ لاس ځانونه عذاب ته سپارئ).**

فَلَمَّا رَأَوۡهُ عَارِضٗا مُّسۡتَقۡبِلَ أَوۡدِيَتِهِمۡ قَالُواْ هَٰذَا عَارِضٞ مُّمۡطِرُنَاۚ بَلۡ هُوَ مَا
ٱسۡتَعۡجَلۡتُم بِهِۦۖ رِيحٞ فِيهَا عَذَابٌ أَلِيمٞ ٢٤

**نو کله چه يې وليدل الهى عذاب د يوې پلنې وريځې په شکل د دوى( د کليو کورونو او) درو په لورى راروان دى،( په خوښۍ سره يې) وويل: دا زمونږ لپاره بارانى وريځ ده( چې اوږده سوکړه او وچکالى به مو ورسره ورکه شى او کښتونه به مو تر و تازه شى)، خو (هود ورته وويل: نه!) بلکه دا هماغه (عذاب) دى چې تاسو يې په تلوار غوښتنه کوله. دا هغه تباه کوونکې باد دى چې دردوونکى عذاب ورسره ملګرى دى.**

تُدَمِّرُ كُلَّ شَيۡءِۭ بِأَمۡرِ رَبِّهَا فَأَصۡبَحُواْ لَا يُرَىٰٓ إِلَّا مَسَٰكِنُهُمۡۚ كَذَٰلِكَ
نَجۡزِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ٢٥

**( هغه له غضب نه ډک توپان چې يوه اونى پرله پسې چليده ) او د خپل رب په امر يې هر څه تس نس او تباه برباد کړل ( مجرمانو ته داسې ضربه ورکړى شوه چې) اوس يې له کنډواله شويو کورونو پرته، هيڅ نوم نښان نه دى پاتې. همدا ده زمونږ سزا هر مجرم قوم ته.**

وَلَقَدْ مَكَّنَّٰهُمْ فِيمَآ إِن مَّكَّنَّٰكُمْ فِيهِ وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا وَأَبْصَٰرًا
وَأَفْـِٔدَةً فَمَآ أَغْنَىٰ عَنْهُمْ سَمْعُهُمْ وَلَآ أَبْصَٰرُهُمْ وَلَآ أَفْـِٔدَتُهُم مِّن
شَىْءٍ إِذْ كَانُوا۟ يَجْحَدُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ
يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٢٦﴾

**هغوی ته مو داسې قوت او پیاوړتیا ورکړې وه چې تاسو ته مو نه ده درکړې. هغوی ته مو غوږونه( د سماعت قوت)، سترګې( د بصارت قوت) او زړونه( د بصیرت قوت) ورکړی وو، خو غوږونو، سترګو او زړونو یې ورڅخه د عذاب مخه و نه شوه نیولی ځکه د ( حق او باطل د تشخیص د دغو سترو الهی نعمتونو سره سره بیا هم قصداً او عمداً د ړندو، کڼو او لیونیانو په شان د پیغمبرانو مخالفت ته ولاړ وو، او ) زمونږ له آیتونو یې انکار کاوه چې بالاخره ترې هماغه عذاب خپله (قهری) غېږه راچاپیر کړه چې دوی وربانديې ملنډې او مسخرې کولې.**

وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُم مِّنَ ٱلْقُرَىٰ وَصَرَّفْنَا ٱلْـَٔايَٰتِ لَعَلَّهُمْ
يَرْجِعُونَ ﴿٢٧﴾

**او( ای د مکې معظمې خلکو!) مونږ ستاسو د شاوخوا سیمو او ښارونو خلک هم( د کفر او طغیان له امله) تباه کړی( خو لومړی مو ورته) خپل آیتونه ابلاغ کړل چې کیدی شی( له خپل کفر نه) راوګرځی.**

فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ قُرْبَانًا ءَالِهَةًۢ ۖ بَلْ ضَلُّوا۟
عَنْهُمْ ۚ وَذَٰلِكَ إِفْكُهُمْ وَمَا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴿٢٨﴾

**نو ولې ورسره( د عذاب د نزول په وخت کې) هغو باطلو خدایانو چې دوی( پخپل زعم او فکر) الله تعالی ته د نږدې والی لپاره غوره کړی وو، مرسته و نه کړه بلکه له مخې یې تری تم شول، او همدا و د دوی د پرله پسې دروغو او افتراآتو انجام او عاقبت.**

وَإِذْ صَرَفْنَآ إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ ٱلْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ ٱلْقُرْءَانَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ
قَالُوٓا۟ أَنصِتُوا۟ ۖ فَلَمَّا قُضِىَ وَلَّوْا۟ إِلَىٰ قَوْمِهِم مُّنذِرِينَ ﴿٢٩﴾

**او (ای پیغمبره!) هغه وخت رایاد کړه چې د پیریانو یوه ډله مو د قرآن اوریدو لپاره ستا لوری ته متوجه کړه، کله چې (د قرآن د قرأت په وخت کې) حاضر شول،( پخپل منځ کې یې) وویل: چپ اوسی. نو کله چې( قرأت) پای ته ورسید، خپل قوم ته د تنبیه کوونکو پحیث ستانه شول.**

قَالُوا۟ يَٰقَوْمَنَآ إِنَّا سَمِعْنَا كِتَٰبًا أُنزِلَ مِنۢ بَعْدِ مُوسَىٰ مُصَدِّقًا لِّمَا
بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِىٓ إِلَى ٱلْحَقِّ وَإِلَىٰ طَرِيقٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٣٠﴾

**ویې ویل: ای زمونږ قومه! مونږ یو کتاب واورید چې له موسی نه وروسته نازل شوی، او د خپلو پخوانیو( آسمانی کتابونو) تصدیق کوونکی او د حق او مستقیمې لارې لارښود دی.**

يَٰقَوْمَنَآ أَجِيبُوا۟ دَاعِىَ ٱللَّهِ وَءَامِنُوا۟ بِهِۦ يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ
وَيُجِرْكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣١﴾

**ای زمونږ قومه! د الله لوری ته د رابلونکی( پیغمبر) دعوت ته لبیک ووایی او ایمان ورباندې راوړی ترڅو مو ګناهونه درته وبښل شی او له دردوونکی عذاب نه وژغورل شئ.**

وَمَن لَّا يُجِبْ دَاعِىَ ٱللَّهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَيْسَ لَهُۥ مِن دُونِهِۦٓ
أَوْلِيَآءُ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٣٢﴾

**او څوک چې د الله تعالی د داعی خبره و نه منی، نو الله تعالی ته په ځمکه کې هیڅ زیان نشی اړولی( او نه یې د قدرت او سلطنت له ساحې تښتیدلی شی) او نه د الله تعالی په مقابل کې بل یار او مددګار پیدا کولی شی( چې د الله تعالی د عذاب مخه ترې ونیسی) بلکه دوی د ګمراهئ په کندو سر دی.**

أَوَلَمْ يَرَوْاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَلَمْ يَعْىَ بِخَلْقِهِنَّ
بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يُحْۦِىَ ٱلْمَوْتَىٰ ۚ بَلَىٰٓ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٣٣﴾

**آیا دوی نه پوهیږی، الله تعالی چې د آسمانونو او ځمکې د خلقت په ستره چاره نه دی ستړی شوی، نو د مړو د بیرته راژوندی کیدو قدرت هم لری او پخپلو ټولو چارو او اقداماتو هم پوره برلاسی او قدرتمند ذات دی( او د یهودانو دا ادعا مردوده او دروغ ده چې وایی: الله تعالی په شپږو ورځو کې آسمانونه او ځمکه ایجاد او جوړ کړل او په اوومه ورځ یې آرام او استراحت وکړ، العیاذ بالله).**

وَيَوْمَ يُعْرَضُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَلَى ٱلنَّارِ أَلَيْسَ هَٰذَا بِٱلْحَقِّ ۖ قَالُواْ بَلَىٰ وَرَبِّنَا ۚ
قَالَ فَذُوقُواْ ٱلْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٣٤﴾

**او هغه ورځ چې کافران اور ته ور وړاندې کړی شی( پوښتنه به تری وشی) آیا دا( دوزخ او عذاب) حق نه دی؟ دوی به ووایی: په رب قسم چې کاملاً حق دی. ورته به وویل شی چې اوس نو د خپل دایمی کفر په سزا کې د همدغه عذاب خوند واخلئ.**

فَٱصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُوْلُواْ ٱلْعَزْمِ مِنَ ٱلرُّسُلِ وَلَا تَسْتَعْجِل لَّهُمْ ۚ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ
يَرَوْنَ مَا يُوعَدُونَ لَمْ يَلْبَثُوٓاْ إِلَّا سَاعَةً مِّن نَّهَارٍ ۚ بَلَٰغٌ ۚ فَهَلْ يُهْلَكُ إِلَّا
ٱلْقَوْمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿٣٥﴾

**نو (ای پیغمبره) ته هم د اولوالامر پیغمبرانو په شان، صبر وکړه او د کافرانو لپاره (د عذاب په غوښتلو کې) تلوار مه کوه. هغه ورځ چې دوی موعود عذاب ووینی فکر به کوی چې( په دنیا کې یې) ایله یو ساعت( هوسا او آرام) ژوند کړی دی.دا( قرآن ټولو ته یو نصیحت او) ابلاغ دی، او یوازې همدا سرکش فاسقان دی چې ( له اتمام حجت نه وروسته به) تباه کیږی.**
**« تمت سورة الاحقاف بفضل الله و رحمته»**
**==================**